# مَنْ قَرَأَ بِالْآيَتَيْنِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ». " څوک چې په شپه کې د سورت البقرې دوه وروستي آيتونه ولولي، د هغه لپاره بسنه کوي

له ابو مسعود رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي: «مَنْ قَرَأَ بِالْآيَتَيْنِ مِنْ آخِرِ سُورَةِ الْبَقَرَةِ فِي لَيْلَةٍ كَفَتَاهُ». "څوک چې په شپه کې د سورت البقرې دوه وروستي آيتونه ولولي، د هغه لپاره بسنه کوي".

[(صحيح] [متفق عليه دی ( بخاري اومسلم دواړو روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې: څوک چې د سورت البقرې دوه وروستي آيتونه د شپې پر مهال ولولي نو الله تعالی د هغه لپاره بسنه کوي چې له هرې بد او مصيبت څخه يې وساتي. او داسې هم ويل شوي چې (معنا يې دا ده چې) دا آيتونه ورته د شپې له تهجدو څخه بسنه کوي، او ويل شوي چې له نورو ټولو اذکارو څخه ورته بسنه کوي، او ويل شوي چې دا تر ټولو کم هغه څه دي چې بايد د شپې په تهجدو کې ولوستل شي او داسې نورې ويناوې هم شوي دي، او کېدای شي ټول هغه څه چې پدې اړه وويل شول سم وي ځکه چې دا الفاظ ورته شامليږي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/6274

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee